AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نجیب‌الله پتمن

۲۰۲۶/۰۴/۲۰

# د اسلام زرین دور د رنسانس پر بهیر څنګه اغېز وکړ

که څه هم د "رنسانس" اصطلاح د لرغونو زده کړو د "بیا راژوندي کېدو" مانا لري، خو دا بیا راژوندي کېدل به د اسلامي عالمانو له اغېز پرته هېڅکله شونی نه وو.
د ۲۰۲۶ کال د اپرېل اتمه
لیکواله: کایلا جانسن، د نړیوالو کلتورونو ماستره، د هنر په تاریخ کې لیسانس
اسلامي عالمان د دا وینچي د انسانیت ، هندسې او طبیعت تولګه ( ویتورین انسان )ترڅنګ
د اسلام زرین دور یوهانو د یوناني او رومي لرغونو اثارو ساتنه وکړه، هغوی یې عربي ته وژباړل، او وروسته یې د رنسانس مفکرینو ته الهام ورکړ
ځان پېژندنه ، نوښت، او د دودیزو اصولو ننګول د رنسانس د دورې بنسټیز اصول وو. دا دوره د ساینس، طب، ټکنالوژۍ او هنر په برخو کې د بدلونونو له امله ځانګړې شوې وه ، چې د انساني تاریخ پر بهیر یې اوږدمهاله اغېز وکړ. خو رنسانس د هغو اسلامي عالمانو پر بنسټ ولاړ و چې دیارلس پېړۍ مخکې یې کار کړی و. د اسلام زرینې دورې، چې خپله هم د ساینس او ټکنالوژۍ د پرمختګونو له امله ځانګړې وه، هغه وسایل، کتابونه او نظریات برابر کړل چې وروسته د رنسانس د مفکرانو، جوړوونکو او نوښتګرو لپاره بنسټیز ارزښت درلود.
د اسلام راټوکېدل ( ظهور )
د لوېدیځ عربستان بیدیا دره، چې د سره سمندر له اوبو څخه ۴۳ میله (۷۰ کیلومتره) دننه پرته ده، د هغه دین زېږېدو ځای وه چې وروسته به د مدیترانې او هندي سمندرونو دواړو خواوو ته خپور شي او بېلابېل کلتورونه د یوې عقیدې او عمل تر چتر لاندې سره یو موټی کړي. دې دین ته اسلام ویل کېږي، چې یو عربي اصطلاح ده او مانا یې "تسلیمېدل" دي، یعني د یوازیني ابراهیمي خدای تعالی پر وړاندې سر ټیټول، هغه خدای چې په یهودیت او عیسویت کې هم عبادت کېږي. د دې دین پیروانو ته مسلمانان ویل کېږي، یعنې هغه کسان چې د خدای تعالی او د هغه د ارادې تابع وي.
د اسلام له ظهور څخه مخکې عربستان، چې ځینې یې په منفي ډول د "جاهلیت" یا "ناپوهی" په نوم یادوي، یوه وچه او غرنیزه سیمه وه چې د قبیلو له خوا اداره کېده او دا قبیلې د لویو طایفو برخه وې. دا ټولنه که څه هم ټوټه ټوټه او کوچیانې وه، خو د ورېښمو لارې له لارې یې پیاوړی سوداګریز اقتصاد درلود، بډایه شعري دود یې درلود، خو یو واحد دین یې نه درلود .
شعر له اسلامه مخکې ټولنه کې دومره ارزښت درلود چې د شعر سیالی کله ناکله د قبیلو ترمنځ د شخړو د حل لپاره کارېدلې. په ځانګړي ډول، دغه شعري دود وروسته په قرآن کې هم ځرګند شو، چې د هغه وحی لیکلې بڼه ده چې پیغمبر محمد( ص )له خدایه ترلاسه کړې وې.
د یوې ځپې په څېر چې مرکز مکه او مدینه و ، اسلام له همدې ځایه څخه خپور شو، د عربستان ټاپووزمې له لارې ختیځ ته ، شمال ته د شام سیمې ته، او لویدیځ ته د مدیترانې په لور وغځېده . د پیغمبر حضرت محمد ( ص ) او د هغه د ځای ناستو( خلفه ګانو ) تر مشرۍ لاندې، اسلام د ډیپلوماسۍ او پوځي کمپاینونو دواړو له لارې په ټول عربستان کې خپور شو، او بېلابېل عربي قبیلې یې د اسلام تر بیرغ لاندې سره یو ځای کړې .
د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم له وفات څخه وروسته په ۶۳۲ میلادي کال کې، مسلمان مشران، چې خلیفه ګان بلل کېدل، د اوسنی ایران په سیمه کې د ساسانیانو لویه امپراتوري ړنګه کړه، په ختیځ مدیترانه کې یې بیزانس امپراتورۍ سخته کمزوري کړه ، په شمالي افریقا کې یې خپلې پښې ټینګې کړې، او په جنوبي اروپا کې یې ریښې وغځولې، په ځانګړې توګه په اوسني سیسلي او هسپانیې ( ایبیریا (ټاپووزمه کې .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په غېر و لولئ

د اسلامي واکمنۍ لاندې د دې سيمو يووالي د داسې زريني دورې بنسټ کېښود چې د رياضياتو ، ساينس، ټکنالوژۍ او فلسفې په پرمختګونو سره وځليده .

اسلام او ليک لوست

د "قرآن" کلمه، که څه هم له مخکې موجوده وه عربي، سرياني او عبري ريښو څخه اخيستل شوې ده، خو يوازې د اوومې پېړۍ څخه وروسته د اسلام سپېڅلي کتاب لپاره ځانګړې شوه ( ګراهام، 362مخ ). د قرآن کلمه په همدې نوم سپېڅلي کتاب کې د تلاوت د عمل د څرګندولو لپاره کارول شوې ده - يعنې دا متن د لوستلو لپاره دی، او د لوستلو له لارې بايد په لوړ غږ تلاوت شي ( ګراهام ، 366مخ ). سربېره پر دې، هغه لومړنۍ کلمه چې مسلمانان ورباندې باور لري پر پيغمبر حضرت محمد ( ص ) باندې د خدای له لوري نازل شوې ده، " اقرأ يا ولوله " ده : " لوستل ! د خپل رب په نوم [...]" ( حليم ، 428 مخ)

د منځنيو پېړيو اروپا کې ، انجيل يوازې په لاتيني ژبه موجود و، او د دې ژبې پوهه عموماً د کليسا او د پوهانو محدودې طبقې پورې تړلې وه. دا پدې مانا چې ډېرى عيسوي عبادت کوونکي د خدای د کلام د تفسير لپاره په روحانيونو (پادريانو) تکيه کوله، يو دود چې په شپاړسمه پېړۍ کې د مارتين لوتر لخوا ونګول شو .همدا لامل و چې د منځنيو پېړيو کليساوې د انجيل د شخصيتونو او کيسو په انځورونو سره سينګار شوې وې، تر څو نالوستي خلک هغه څه وګوري چې لوستل يې نه شواى کولى .

برخلاف ددې ، د قرآن کريم لوستل په اسلامي نړۍ کې هڅول کېدل، که څه هم ځينې وختونه اجباري هم وو، چې دا د مسلمانانو ترمنځ د لوست او ليک کچه لوړه کړې . په نوې اسلامي امپراتورۍ کې د سواد کچې زياتوالى بنايي هغه مهم عامل و چې وروسته د تش په نامه د موندنو دور (Age of Discovery) لامل شو، کوم چې د مديترانې او لوېديځې اسيا د اسلامي واکمنۍ تر يووالي وروسته رامنځ ته شوه، او د تش په نامه اسلامي زرين دورې بنسټ يې کېښود.

د پوهاوي (حکمت )کور

د اسلامي طلايي دور پيل اکثرا د هغو علمي متنونو له ژباړې سره تړل کېږي چې له لرغوني يوناني، لاتيني، فارسي او سانسکريت ژبو څخه عربي ته وژباړل شول. عمومي باور دا دی چې دا بهير د عباسي خلافت په نهمه پېړۍ کې پيل شو . عباسيانو له هغه وروسته پر پراخې امپراتورۍ واکمن شول چې تر ٧٥٠ ميلادي کال شاوخوا يې امويان نسکور کړل، او دا امپراتوري په لوېديځ کې تر پرتګال او ختيځ کې تر ننني افغانستان پورې غځېدلې وه. د عباسيانو "پلازمېنه" بغداد و، چې په اوسني عراق کې موقعيت لري او د اسلامي علم او پوهې د تېيدونکي زړه په توګه پېژندل کېده ( براون ، ٥ مخ ).

د ټولې امپراتورۍ څخه عالمان، ساينس پوهان، ډاکټران او فيلسوفان بغداد ته د خپلو اړوندو علومو د زده کړې او عملي کولو لپاره د هيلو سره راغلل. بغداد د پوهې کور يا بيت الحکمت کور و ، چې د فارسي، يوناني، رومي او د ستورپوهنې، ساينس، ټيکنالوژۍ او فلسفې په نورو متنونو کې يو پراخ کتابتون و . دا څرګنده خبره ده چې د پوهې کور د فارس امپراتورۍ په اوږدو کې د پراخو کتابتونونو له شتون څخه خورا اغيزمن شوی و، کوم چې مسلمانان د ساسانيانو د فتحې پرمهال ورسره مخ شول .

د حکمت په کور (بيت الحکمه) کې زياتره متنونه په عربي ژبه ليکل شوي وو، چې د اسلامي تمدن "علمي ژبه" بلل کېده (سليبا، viii). په ټوله اسلامي نړۍ کې د عربي ژبې عام استعمال دا ممکن کول چې بېلابېل علمي ډګرونه خلکو ته د جغرافيې، کلتور او مذهبي توپيرونو پرته د لاسرسي وړ شي. په ډېرو مواردو کې، عربي د علماوو او ژباړونکو اصلي ژبه نه وه، ځکه هغوی په خپلو کورونو کې په سرياني، اردو، فارسي او نورو ژبو خبرې کولې.

سربېره پر دې، که څه هم دا يو "اسلامي" نړۍ وه، خو پوهانو ته دا اړينه نه وه چې مسلمانان وي .په حقيقت کې، د پخوانيو متونو ډېر ژباړې عربي ژبې ته اکثره د "سريايانو، عبرانيانو ، پارسيانو له لوري چې د عيسوي، يهودي يا مجوسي دينونو پيروان وو" ترسره کېدې . سربېره پر دې، که څه هم دا يو "اسلامي" نړۍ وه، خو پوهانو ته دا اړينه نه وه چې مسلمانان وي. په حقيقت کې، د پخوانيو متونو ډېر ژباړې عربي ژبې ته اکثره د "سورياپانو، عبرانيانو، پارسيانو له لوري چې د عيسوي، يهودي يا مجوسي دينونو پيروان وو" ترسره کېدې .

)براون، مخ ٢

د لرغونو متنونو خوندي کول

د اسلامي طلايي دورې يوه اغېزه پر رنسانس دا وه چې لرغوني يوناني او لاتيني متنونه د عربي ژبې ته د ژباړې له لارې وساتل شول. لکه څنګه چې پورته يادونه وشوه، عموماً باور دا دی چې د دې متونو ژباړه په نهمه پېړۍ کې پيل شوې ده. خو د اسلامي تاريخ عالم جورج سليبا يو بل روايت وړاندې کوي؛ د عربي ژبې په دننه کې د ډېرو تخنيکي اصطلاحاتو شتون او په ساينس او نجوم کې لوی پرمختګونه ښيي چې ښايي دا متنونه تر دې مخکې پېژندل شوي وو. د بېلګې په توګه، د بطليموس "المجسطي" ، چې يو يوناني نجومي اثر دی، دا نظريه وړاندې کړې وه چې د ځمکې کږوالی ٢٣ درجې، ٥١ دقيقې او ٢٠ ثانيې دی. په عربي ژباړه کې دا ٢٣ درجې او ٣٠ دقيقې ښودل شوی، چې د نجوم په برخه کې د وروستيو پرمختګونو انعکاس کوي (سليبا، ٢٠ مخ ).



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دغه پرمختګونه ښيي چې هغه عربي ژباړې چې په نهمه پېړۍ کې راڅرګندې شوې، په حقیقت کې د هغو بدلونونو او پرمختګونو دوام او راټولونې دې چې لدې څخه مخکې پیل شوي وو (سلیبا ، ۱۶ مخ ). که د دې ژباړو اصل هر څه وي، د یوناني-رومي علمي متونو عربي ژباړې د دې لامل شوی چې دا اثار د رنسانس د دورې پوهانو ته وسائل شي، کوم چې وروسته له عربي څخه لاتین ته وژباړل شول. که عربي ژباړې نه وای، د رنسانس پوهانو به د یو شمېر مهمو کلاسیکو متونو ته لاسرسی نه درلود.
برعلاوه ، د چین څخه اسلامي نړۍ ته د کاغذ راتګ دغه ژباړې شونی کړې. په اسلامي نړۍ کې د کاغذ خپرېدل او کارول به د رنسانس پر مهال پر اروپا ډېر اغېز ولري؛ داسې بدلون راوړونکي ټکنالوژي لکه د ګوټنبرګ د چاپ مشهور ماشین به د دې څخه پرته ناشونی وه.
د اسلامي علومو اغېز پر رنسانس مفکرینو
د میلان ښار په یوه څېرنیزه خونه کې، چې د شمعې په کمه رڼا کې نیمه تیاره وه، یو سړی چې د ډېرشو کلونو په وروستیو عمرکې و، په خپله د لاتیني متونو لوستل زده کول—هغه متون چې د ساینس، اناټومي او ټکنالوژۍ په اړه وو. دا د ۱۴۹۰مو کلونو وخت و ، او اروپا د فکري او علمي پرمختګ په یوه پیر کې وه. که څه هم دې سړي ځان “omo sanza lettere” یا “بې‌سواد سړی” بلل ، هغه د خپل وخت له تر ټولو تکړه رنسانسي پوهانو څخه و: لیونارډو دا وینچي. ډېری هغه کتابونه چې دې هنرمند لوستل، د عربي علمي څېړنو لاتیني ژباړې وې، او ویل کېږي چې داوینچي له دغو متونو سره “په بشپړ ډول بلد شو” (اکرمن , ۲۱۵ مخ ).
یو د پام وړ عربي پوهانو څخه چې پر لئوناردو داوینچي یې اغېز وکړ، د یوولسمې پېړۍ عالم ابن الهیشام و. دغه سړی چې د «عصري عدسیو پلار» بلل کېږي، د نننۍ ایران په سیمه کې زېږېدلی و، خو په بغداد کې یې زده کړې وکړې، هلته هغه د عصري علمي مېتود مخکښ شو؛ هغه طریقه چې تیوري له عملي کار او ثبت شوو مشاهداتو سره یوځای کوي. د هغه طریقې به د رنسانس دورې پر پوهانو لکه فرانسیس بیکن ډېر اغېزمني وي، چې خپل علمي مېتودونه یې نږدې ۵۰۰ کاله وروسته د ابن الهشام له میتودونو څخه الهام اخیستی و.
د " عدسیو کتاب" یا کتاب المناظر کې، ابن‌الهشام دا مشاهده کوي چې رڼا څنګه د انسان د سترګې له خوا درک کېږي. د بطلیموس (پتولیمي) د نظریې پر خلاف، ابن‌الهشام دا وموندله چې کله انسان کوم شی ته ګوري، رڼا له هغه شي څخه خپرېږي، نه دا چې د سترګې لخوا ور روانه وي. د ده د نوري څېړنو پرمختګ د تت تیاره کامرې په جوړولو سره لا پراخ شو، چې د عصري کامرې لومړنی بڼه بلل کېږي. دې وسیلې وښوده چې کله د رڼا انځور د یوې وړې سورۍ له لارې دننه شي، د هماغه انځور یو اوښتی ( سرچپه شوی) بڼه په مقابله سطحه کې راڅرګندېږي.
د کمرې تیاره کوټه او د ابن الهشام نوري نظریاتو دواړو د لیونارډو داوینچي لخوا د خپلو تجربو د پیل ټکي په توګه وکارول شول، چې تر ټولو څرګند ډول په لید ( دورنما ) کې لیدل کېږي .
دا وینچي د خطي دورنما څخه کار واخیست خو په مشهورو هنري اثارو لکه وروستی ماښام او مونا لیزاکې بصري ژورتیا رامنځته کړې، کارولی و ( اکرمن، ۲۱۵ مخ ).
اسطرلابونه، ستورپوهنه، او د توسي جوړه (سیال)
نیکولاس کوپرنیکس د پولنډ د رنسانس یو ستورپوه و چې د دې نظریې د پراختیا لپاره خورا مشهور و چې ځمکه د لمر شاوخوا ګرځي. د کوپرنیکس د لمر مرکزي موډل د بطلیموس تیوري رد کړه چې ځمکه د کایناتو په مرکز کې ده، کوم چې له لرغوني وخت راهیسې په پراخه کچه منل شوی وه . په هرحال، کوپرنیکس د اسلامي زرین دورې د پوهانو له اثارو څخه خورا اغیزمن و، لکه نصیرالدین التوسي .
توسي د دیارلسمې پېړۍ د اسلامي ستورپوهانو د یوې ډلې غړی و چې د لرغوني یونان د ستورپوهنې نظریات - په ځانګړي ډول د بطلیموس د " المجسټ "- په اړه یې پوښتنې راپورته کولې او هغو ته یې پراختیا ورکوله. د توسي کتاب " التذکرة " یا د ستورپوهنې په اړه یادښت نه یوازې د بطلیموس د ځینو نظریاتو لپاره تجربوي ملاتړ وړاندې کوي، بلکې خپله یوه نوې نظریه هم پکې بیان شوې ده، چې نن ورځ د " توسي جوړه "په نوم پېژندل کېږي.
د توسي جوړه یو هندسي موډل دی چې د یوه دایرې حرکت د بلې دایرې په نسبت څرګندوي او د لمر د حرکاتو د نقشې په توګه کار کوي. د توسي جوړه د کوپرنیکس په آسماني مشاهداتو کې ډېره غوره رول درلود ، او هغه دا مادل یوازې یو ځل، د عطارد ستورۍ په قضیه کې، لږ بدل کړ (سلیبا، ۱۵۸ مخ ). کوپرنکس همدارنګه د ابن الشاطر تر اغېز لاندې و، چې د هغه د سپوږمۍ موډلونه یې نږدې په بشپړه توګه یو پېړۍ وروسته له هغې چې ابن الشاطر خپاره کړي وو، بیا جوړ کړل (سلیبا، ۱۴۴ مخ ). که څه هم د ابن الشاطر میتودونه ځمکه محوره وو ، خو درياضي له پلوه د کوپرنیکس له میتودونو سره بشپړ ورته والی لري .
کوپرنیکس او د هغه د وخت پوهانو هم د "اسطرولاب"په نوم له یوې وسیلې څخه کار اخیست، چې د اسماني حرکاتو ، جزر و مد او عرض البلد د معلوملو لپاره کارېده. که څه هم دا وسیله په اصل کې یونانیانو اختراع کړې وه، خو د اسلام له راڅرګندېدو وروسته یې استعمال ډېر شو ، ځکه مسلمانانو ترې د ورځنیو لمونځونو د وختونو د معلوملو لپاره ګټه اخیسته ، او همدارنګه یې هغوی ته دا اسانتیا برابره کړه چې د لمانځه پر مهال د مکې معظمې لور ته مخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څېر و لولئ

کړي. هغه اسطرولابونه چې عربي لیکني یې لرلې، د رېنسانس د ساینسپوهانو لکه کوپرنیکس ترمنځ ډېر مشهور وو، او هغوی به یا یې په خپلو لاسوندونو کې نقل یا به یې په خپلو مشاهداتو کې کارول (سلیبا ۲۲۳ مخ ).
عربي شمیرې او الجبرا
بل څه چې د اسلامي زرین دور څخه رنسانس ته راوړل شول، هغه څه وو چې اروپایانو یې "عربي شمېرې" ویلې ، یعنې د شمېرو استازیتوب یې د صفر څخه تر ۹ پورې په نښنو سره وو. خو د اسلامي نړۍ پوهانو ورته "هندي شمېرې" ویل، ځکه چې دا په اصل کې د اوسنی هند څخه سرچینه اخلي. داسي انګېرل کېږي چې صفر شمېر په هند کې د میلادي درېیم یا څلورمي پېړۍ په شاوخوا کې اختراع شوی و. دې نوښت د اسناد ساتنه، حسابداري او د ریاضي معادلې بدلې کړې، ځکه چې سرعت او دقت یې زیات کړ، او د لا پېچلو ریاضیاتو د پرمختګ لپاره یې لاره هواره کړه ( شفر، ۲۴۹ مخ ).
د سانسکرېټ عددي سیستم عربي ته وژباړل شو، چې د اسلامي زرین دور کې د یوې نوې ریاضي طریقې د پرمختګ لامل شو: الجبر، یا الجبرا ( سلیبا ۱۸ مخ ). الجبرا وروسته د رنسانس د پوهانوسیپون دل فیرو لپاره ډېر مهم ثابت شو، چې د الجبر په کارولو سره یې د درېیمه درجي معادلې حل کړې .
همدارنګه اعشاري شمېرې په اسلامي نړۍ کې راڅرګندې شوې، چې بیا یې د اوسني هند له پخوانیو ریاضیکي میتودونو څخه الهام اخیستی و . دې "هندو-عربي" اعشاري شمېرو د رنسانس دورې پوهانو لکه پییرو دلا فرانچېسکا ، لیونارډو دا وینچي، او لیون باتیستا البرتي ته دا وسایل برابر کړل چې د هنر، معمارۍ او ریاضیاتو په برخو کې مهم پرمختګونه وکړي، او همدارنګه یې د ۱۳مې او ۱۴مې پېړۍ د اروپایي بانکدارۍ او حسابدارۍ سیستمونو بنسټونه کېښودل.
د اسلامي زرین عصر پراخ حضور
د اسلام طلایي عصر اغېز په رنسانس باندې هر اړخیز او پراخ و، او نړدې په ټولو علمي او ریاضي ډګرونه یې تر خپل اغېز لاندې راوستي وو. د ریاضیاتو ، ټکنالوژۍ ، ستورپوهنې او هنر په ډېرو پرمختګونو کې زیاتره وخت ټول امتیاز یوازې اروپایي رنسانس پوهانو ته ورکول کېږي؛ خو د هغوی کار به د اسلامي نړۍ له خوا څو پېړۍ مخکې د رامنځ ته شوي پوهې له زېرمتون پرته شونې نه و . که څه هم اسلامي زرین عصر او اروپايي رنسانس عموماً دوه بېلابېل تاریخي بهیرونه ګڼل کېږي، خو د هغوی ترمنځ په اړیکو پوهېدل ډېر مهم دي .

پای

سرچینې:
اکرمَن، جېمز ایس. "لئوناردو دا وینچي: په ساینس کې هنر ." دایدالوس، ټوک 127، ګڼه 1، 1998کال ، 207–224مخونه JSTOR، http://www.jstor.org/stable/20027483
براون ، اې. جي. عربي طب. کیمبرج پوهنتون خپرندویه اداره، 1962کال

ګراهام، ویلیم اې. "د 'قرآن' د کلمې لومړنی مانا ." د اسلام نړۍ (Die Welt Des Islams)، ټوک 24/23، 1984کال ، 361–377 مخونه. JSTOR، https://doi.org/10.2307/1570680
شافر ، لینډا. "سهیل جوړونه ." نوي نړیوال تاریخ، ۳۱ دسمبر ۲۰۱۹کال ، ۲۴۲–۲۵۸مخونه ، https://doi.org/10.1525/9780520964297-026
قرآن کریم . ایم. اې. ایس. عبدالحلیم لخوا ژباړل شوی ، اکسفورډ پوهنتون خپرندویه اداره، 2008 کال.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ